


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه، علمي ، فرهنگي او نشراتي ارگان ته ښه راغلاست !




# ډاکتررحمت ربی « زيرکيار»

خپلواک څيړونکی، امريکه

**The Durand Treaty, London and Washington**

**By:**

**By: Dr. Rahmat Rabi Zirakyar**

**Independent Scholar, U.S.A.**

zirakyar1234@yahoo.com


د نشر نیته : ۱۶ دسمبر ۲۰۱۳ م

# پوهه ښکلا ده او نا پوهي بلا ده

## د کندهار پوهنتون د څیړنغونډې بشپړ را پور

زه (ځيرکيار) له امريکې نه په کندهار پوهنتون کې «د څلويښت کالو له تاريخي پيښو څخه زده کړې» په سرليک څيړن غونډې ته وربلل شوی وم. موخه (هدف) يې داوه چې: « د خپل تاريخ او ملي مسايلو په اړه د حقيقت ځلانده ډيوه د راتلونکو نسلونو مخ ته» کيږدي. کندهار چې زموږ ټولو افغانانو د نيکه او بابا (ميرويس نيکه او احمدشاه بابا) ټاټوبی دی، په واقعيت کې په ټول افغانستان کې د ملي دولت سازۍ مرکز هم دی. دغه څيړن غونډه په کندهارپوهنتون کې هغه مهم علمي، روزنيز او ملي ابتکار و چې زه يې د دغه پوهنتون مشر پوهاند حضرت مير طوطاخيل ، د پوهنتون نور مشرانو، ښوواندانو، د باچاخان د څيړنيزمرکز مشر شيرشاه رشاد، او پوهيدونکو (محصلينو) ته د برياليتوب شابسی وايم. زه ډاډه يم چې د دغې درنې څيړنغونډې په عملي کيدلو کې به د کندهار د والي ډاکتر توريالی ويسا مشورو او مرستو روغ رول لوبولی وي. له دې امله ورته زه د زړه له کومي کورودانی وايم. دغه شان زه د ډاکتر رشاد له ټيو ټيو روغو مشورو نه ډير منندوی يم. بايد ووايم چې د څيړن غونډې په عملي کيدلو کې د کندهار د ملي تاجرانو ونډه هم د ستاينې وړ ده. ګوندې د افغانستان نور ملي تاجران هم د کندهار د ملي تاجرانو له اخلاص او ګډون نه زده کړه وکړي.

**د کندهار په هوايي ډګر کې :**

موږ څلور تنه (ډاکټر تره کي له فرانسي نه ، ډاکتر درمانګر له سويس نه،، يو بل ځوان استاد له لندن نه، او زه څيرکيار له امريکي نه) د ۲۰۱۳ زيږيز په ۴ د کنـدهار پـه هـوايي ډګر کې د سهار په اتـه نـيمو بجـو کـوز شـوو. دوه درې وسله وال عسکر اخوا ديخوا ګډوډ او ګرنډي ګرځيدل. ما فکر کاوه چي يو څه به پـيښ شـوي وي. «ودريږه» او «درځـه» هغه امرونه وو چي ځما انديښنه يي لا پسي وپرسوله. ځما وار چي راورسيـد او د «درځـه» مهرباني رابانـدي وشوه، د غشي په شان نيغ له تم بريـد نـه تيرشوم او اخوا ديخوا د خپل بکس په لټه کي شوم . يو کنډر غونډي ځای ته ور تير شوم: پـه يوه جګـه ريږه کي د ټولو راغلو مسافرو بکسونه د يوبل په سر پراته وو. خپل بکس مي وليد چي د دوه نـورو لانـدي درونـد خـو سرچـپه پروت و. زما پـه کـوپړی کي لا اوس هـم د «ودريږه» او «درځـه» ټکـو ټـوپونـه وهل. يو ځوان هلک پـه خپـل بکس پسي ريږي تـه وروخوت او ويي ميند. زما په هيله يي زما بکس هم را کـوز کـړ. له کنډر نـه بيرته سيب (تعمير) ته ور ننوتـلم او خپل غټ خوسـرتيتی او بل کـوچنی خـوسر لـوړی بکـس مي د ايکسـرې لـه سمڅـي نـه پـه خـير سـره تيرکـړل. شکر مي وويست چـي د «نـرۍ وال نـظام» له بيلابيلو سفـري عـذابـونو نـه پـه بـريالـيتـوب سره راووتـلم! يو څـو ګامونه چي وړاندي لاړم خوښي څيـرې مي وليدلي: زه د خوښی له لاسه پـه جامـو کي نـه ځايدلم ځکه چي د کـندهار پـوهـنتون د پوهـيدونکـو او نـورو ميلمه پالونکو له خوا زموږ درونـد ښه راغلاست وشو او په هواي ډ ګر کي د سباناري خوني ته يي موږ څلور تنـه بوتـلو. د جنايي پولـيس پـه شـان مي د سباناري د خـونـي هر اړخ ته وکتل . سترګي مي د احمد شـاه بـابا پـه رسـم ونـښتلـي او زړه مي پرې ټکـور شـو ځـکه چي ملي پټکی يي پـه سـر و. خو، ښي اړخ تـه مي چي وکـتل، د لـومـړي ځـل لپاره مـي د «جلالت چپن»(حامد کـرزي) عـکـس ولـيد چـي د قـره قـل پر ځای يـي پـتـکـی وهـلی و. دي چـم تـه سياسـي مـداريـتـوب ويـل کيږي. دغه شان د کندهار په هوايي ډګر کي زياتي لـوحي په فـارسي وې او لـږې پـه پـښتـو!؟ هـسک څـښتـن دي د صفـوي مـزاجـه پښتنـو پـه ګـرغيـرن حـالـت ورحميږي. هـلـته مـو يوه ګيـنټـه دمـه او يـو ښـه سبانارى وکړل. او ورپسي د امـنـيتي قـواو په بـدرګـه سـره د کنـدهـار ښـار پـه لـوري وخوځيـدلو اود کنـدهـار ښارتـه د ورنـنـوتـلـو په مهال ما د لـومـړي ځـل لـپاره د «عـيـنو مـيـنـي» نـــوم واوريـده.

**عـــيـنـــو انـــا اوعينو مـيـــنــــــــــه:**

احمد شـاه بـابـا(۱۷۷۲-۱۷۲۲زيږيز) د خپل لښکر سره له هند نه نه راستون شو. د کندهار د ښار پولو ته چي د ماښام په څره کي راورسيد، د خپل لښکر سره يي هم دلته د شپـي تيرولو پريکړه وکـړه. احمد شاه بابا غوښتل چي د لمرخاته سره سم لښکر د کندهار د ښار په لوري وخوځوي، د دې لپاره چي په رڼـا ورځ يي ښاريان تماشي او ښـه راغلاست ته راووځي. تول لښکر د ښار په پولـو کي د شپـي استراحت وکړ. خو د لښکر يو غړی بې له اجازې د ماښام په تياره کي د خپل کـور په لوري و خوځيد. د خپل کور دړه (دروازه) يي وټکوله. ميرمن يي د دړې له څټ نه پرې غږ وکړ چي د دړې ټکـوونکی څـوک دی؟ هغه ورغبرګه کړه چي ميړه يي دی. ميرمني يي ورتـه دړه بيرتــه نکـړه او ورته ويي ويل چي ميړه يي د احمدشاه بابا د لښکر سـره دی! ميـړه يـي مجبور شو چي خـرسترګی ځـان بـيرته خـپل لښکـر تـه ورسـوي. هـلـتـه چـي ورسيد، مـوظـف لښکـري وروسـتـه لـه تـحـقيقـه احمد شـاه بـابا تـه ورسـاوه او مـوضوع يـي ورتـه واورولـه. پخـپله احمـد شـاه بـابـاخپل تښتيـدلـي لښکري تـه وويل چي د ميرمني

پریکـړه دي روغـه وه! د تېښتيدلي لښکـري د میرمني نـــوم «عینـو» و. احمدشاه بابا غیرتي عینو ته
زمکه ورکړه، او عینو په ولس کي پـه «عینـو انـا» نـوم وویست او زمکي يې پـه «عینو مـینـه». د امریکي د نیواک په ننداړتون کي تـاریخي عینــو مـینه د «جلالت چپن» حـامـد کرزي د ورور محمود کرزي د کورسازۍ پـه تجـارتي پروژه واوښتله چي د ښار په شمالي ګوټ کي پـلـنه شوې ده. پـه پروژه کي شل زره کـورونــه پلان شـوي وو. په عـینو مینه کي امـنیت بـرلاسی دی، او ځکه خـو پکي ګڼ شمیـر لـوړرتبه حکومتي ماموران او ماړه تـاجران استـوګـن دي.

**The Aino Mina is a new housing project for up to two million people on the northern edge of the city. Originally called the Kandahar Valley and started by Mahmud Karzai, it was announced that the project would build up to 20,000 single-family homes and associated infrastructure such as roads, water and sewer systems, and community buildings, including schools. It recently won 2 awards, the Residential Project and Sustainable Project of the Year at the Middle East Architect Awards. Many of the high-ranking government employees and civil servants as well as wealthy businessmen live in this area, which is a more secured community in Kandahar. [4 December 2013].**

## دري ورځنۍ څېړن غونـډه:

د ۲۰۱۳ د نومبر په ۴ له ماپښین نه وروسته، راغلي میلمانه یو بل ته ور وپیژندل شول، او وریسي موږ ټولو د کندهار پـوهنتون بیلابیل پوهنځي وکتل. سبا د نومبر په ۵ څېړن غـونـډه د کندهار پوهنتون په تالار کي د قرآن مجید په ویلو پیل شوه او دري ورځي دوام یـې وکړ. غونـډه پــه منظم ډول پر مخ تلله او هر څېړونکي د خپلي وینا لپاره شل دقیقې وخت لاره. ما خـپله وینا (« په افـغـان دربار کي ولې افغاني نـشته؟») په اتـلس نیمو دقیقو کي واوروله.
په غونډه کي میرمنو هم ګډون لاره. ګومان کوم چي اکثریت یې د کندهار پـوهنتون پـو هیدونکي
(محصلیني) او ښووانډي (استادانې) وې. د دوی په خوا کي د ټول افغانستان د ملي ژبې پښتو نومیالی شاعره میـرمن پروین ملال هم ناسته وه چي پخوا په کراچۍ کي اوس په پیښور/پښتونخوا کي د افغانستان د قونسلګرۍ د کلتوري چارو مشره ده . زما له وینا وروسته یوه میرمن راغله او دوه عکسونه یې راسره واخیستل. په کابل کي د عـلومو د اکا ډیمۍ مشـرې ثـریـا پـوپـل په غونډه کي وینا په پـښتو کي واوروله. هغه ښځي چي ځانونه یې په «جلباب؟» کي پټ کړي وو، زما «السلام علیکم» بې وا نه خیست. جلباب بـشپړ حجاب دی: هغه اوږد کمیس دی چي د ککرۍ له څوکي نه د پـښو د ګـوتـو پـورې ( د سترګو او پـزې په شمول) د ښځو تـول وجود یې پټ کړی وي؟ دوه ښځي چي جلباب یې د غـونـډې په تـالار کي اغوستلی و، د تـفریح پـه مهال ماته مخامخ راروانـې وې. ما هرې یوې ته «السلام علیکم» وواېه، خو یوې هم راتـه« وعلیکم السـلام» و نه وایه.
د کندهار والي ډاکټر توریالي ویسا دوه ماښامه د غونډې ګډون کـونکي اود کندهار نـور مشران پـه خپل میلمستون کي میلمانه کـړل. په دوهم ماښامي کي د ولایت په تالار کي لومړی یوه په زره پـورې پـښتو مشاعره وشـوه چي میرمن پروین ملال اوعبدالغـفـور لیوال هم پکي برخه واخیسته. وریسي یـوه خورا لنډه خو په مطلب کوټلي پـښتو درامه ورانـدې شـوه چي د کندهـار پـو هنتون یو ویښ او حساس پـوهیدونکي (محصل) یـواځي پخپـله تمـثیل کـړه. د دغي (نږدې دري دقیقه یزې) یوکسیزې ډرامي په پای کي، زما په شمول د تماشا کوونکو خورا ګڼ اکثریت

سرونه ځورند کړل ځکه چې له سترګو يې اوښکي تويدلې. له سترګو وښکي و څڅيدلې ځکه چې د ښوونځي د زده کوونکي (لوبغاړي) ټوله کورنی بمبار شوي وه. ما سبا د ډرامي لوبغاړی وليد. په غيږ کې مې و نيو او شابسی مې ورکړ. ده راته وويل چې ډرامه يې د وخت د کموالي له امله لنډه کړي وه. ګوندي څوک دغه ډرامه په انګريزي واړوي او ويب سايټونو او خاصتًا د لويديزې نړی ټلويژنونو ته يې ولېږي.

## د درنو په درناوي کې:

موږ په کندهارکي د ميرويس نيکه او احمد شاه بابا او خرقې شريفې، او په ارغنداب کې د بابا ولي زيارت وکړ.هلته مو د ټول افغان ملت لپاره د خپلواکی ، نيکمرغی او سر لوړی دُعاګانې وکړې. په ارغنداب کې د بابا ولي د زيات غونډی د ميلو ځای ښکاري. ماته يې د کابل لپاره په اوري کې د پغمان مقام را په زړه کړ. د با با ولي مقبرې ته نږ دې د امريکې پوځي اډه پلنه شوې ده. دغه شان د کندهار د ښار او د با با ولي په منځ کې د سرک په غاړه د ملا محّمد عمر اخوند په وروستني استوګنځای باندې چګ او پير سيمټي ديوال راچاپير شوی دی او دځايزو معلوماتو له مخي د امريکي خاصو قواو (سپيشل فورسيز) يکي د نيواک له لومړئ ورځي راهيسي اړولي دي. نه پوهيږم چې دا به همغه امريکايي اډه وي چې د بابا ولي مقبرې ته نږدې جوړه شوې ده، او که دوهمه امريکايي پوځي اډه به وي.

## د مطبوعاتو رياست، ورکتون، او د کمپيوټري زده کړو ښځينه اکاډيمي:

په کند هار کې دمطبوعاتو رياست ته هم ورغلو. ښايسته ډيرکتابونه يې راټول کړي وو. دغه شان ديوالونه يې هم په انځورونوګلالي کړي وو. وروسته له دې ورکتون ته ورغلو. دوه ښوونکي يې لرلي. دواړه مخلوځي وې خو اوږدې جامي يې اغوستلي وې. ما دواړه ښوونکي وپو ښتلي چې زه د دوی هرې يوې او/يا دواړو سره غبرګ عکس اخيستلی شم؟ دواړو راغبرګه کړه چې دوی زما سره د عکس اخيستلو مخالفي نه دي، خو د کوم بل بې اعتباره چا سره عکس نه اخلي. ماشومان ګلالي او ښه پاک وو او جامي يې هم پاکي وې. مخکې له دې چې په ورکتون کې د غرمي ډوډی وخورو، ماشومانو راته په زړه راښکونکو تنکو غږونو کې د وطن ترانه واوروله:« دامو د دادا وطن/ دامود بابا وطن». ماته يې پخوانۍ خپلواک افغانستان را په زړه کړ. د ورکتون مشر ماته يو ګلالۍ پټکی هم راپه سر کړ. وروسته له دې مو په کندهار کې د کمپيو تر د زده کړې ښځينه اکاډيمي هم وکتله. د دغې اکاډيمی د کنفرانس په تالار کې ښځينه زده کوونکي را غونډې شوې وې او زموږ نه يې پوښتني وکړې. زما په اټکل، په تالار کې د زده کوونکو غټه برخه پيغلوټو(۱۵تر ۱۸ کلنوجينکيو) جوړه کړې وه. يوې زما نه هيله وکړه چې که په پنځه دقيقو کې د امريکې په اړه معلومات ورکړم. ما د هغې په هيله وينا وکړه. غونډه چې پای ته ورسيدله، د اکاډيمی غولې ته په ما پسې دوه جينکی راغلي او هيله يې رانه وکړه چې د دواړو په منځ کې ودريږم او عکسونه(تصويرونه) ورسره واخلم. نوري ګڼ شمير جينکياني هم زموږ مخامخ زموږ د سيل لپاره ولاړې وې. ما د دوی دواړو په اوږو لاسونه کيښودل او زموږ دوه عکسونه واخيستل شول. زه نه پوهيدلم چې څنګه ورسره مخه ښه وکړم. خو زما کيني خوا ته ولاړې جينی زه حيران کړم، ځکه چې په انګريزي يې راسره په يوه ډيره درنه او خوږه جمله مخه ښه وکړه. زه چې ورته ګورم له دغې تکړه جينی نه به يوه ډيره زړه وره او په پوهه غښتلې ميرمن جوړه شي. په پای کې د کندهار پوهنتون له پوهيدونکو نه ډيره مننه کوم چې په غټ مهارت سره يې زما نوم په روغه پښتو راوښود: زه به وروسته له دې د « زيرک يا ر» په ځای «ځيرک يا ر» کاروم.

د کوټې/ سهیلي پښتونخوا پوهان:

په ځیرن غونډه کې د کوټې/پښتونخوا منلو ورونو ( پوهاند سیال کاکړ، ډاکتر عبدالروف رفیقي،محّمد صادق ژرک او زهیر) ګډون لاره او له دې امله یې په غونډه کې د ټول افغان جنډه لکه کړه. د منلي ژرک کتاب (د فخرافغان ځانګړنې ، ۲۰۱۲) په ۱۹۲مخونو کې د باچا خان د بې تاوه پاڅون ګرندې او ګټور لاربنود دی. زه له منلي ژرک نه مننه کوم چې په ما یې د دې کتاب پیرزوینه وکړه. ژرکه ! ګوره چې هغه بله موضوع ( د پښتو مترقي شعرلـه ختکـه تـر ژرکـه) درنـه هـیـره نـه شي. زه ستاسي په ځیرنیز زور او د دغې موضوع سره ستا پـه مینـه پوهیږم، او لـه دې املـه پـه ډاډه سره ویـلی شـم چـې دغـه درنـه عـلمـي او مـهـمـه ملـي مـوضـوع بـه ښـه ډانـډ س کـړئ.

ډاکتر عبدالروف رفیقي په دې پسې ملا ترلې ده چې د ټول پښتون د تاریخ دحقایقو تل ته ورکوز شي، پیښې راوسپړي او خپل ولس ته یې ورانډې کړي. ډاکتر رفیقي د کویټې په کاسي سرک کې « د ډاکتر رفیقي ځیرنیز مرکز» چلوي چې د نیول شوي افغانستان د ډالرمآب او جلالت چـپـن رژیـم خـرسترګی شعـور ورنـه پتـیږي. ډاکـتـر رفیقي ټـول افغان ملت تـه پښتـو «اکبرنـامـه» او د فارسي «سراج الاخبار» (لومړی ټوک) ډالی کړي دي. اکبرنامه چې اصلا پـه فارسي کې مُلا حمیدالله کشمیري د فردوسي په ځیرو پیښو لیکلې وه، په غـازي محّـمـد اکـبرخان را چاپیره ده. دغه منظومه وریسي محّمدشریف جانان کاکړ کندهاري په پښتو نظم واړوله او وریسي ډاکتر رفیقي په خپلو سمونـو، ځیرنو او تعلیقاتو کـوتلي کړه. پوهاند فضل رحیم مروت وربانډې په انګریزي یوه ګټوره ځلورمخیزه بدیره (تبصره) لیکلې ده. پښتو اکـبـرنـامـه ټول تـال په( +۶۶۷ ) مخونو کې پـه ۲۰۱۱زیـیز کې د لاس ارتـې محّمـد اصغـر خـان اڅـکـزي په لګښت چاپ شوې ده. دغه شان ډاکتر رفیقي په «افغانستان کې د ژورنالیزم د پلار» محمود طرزي د «سراج الاخبار» د سلمي کلیزې په مناسبت د دغه اخبار لومړی ټوک بـیـا پـه ۲۰۱۱ زیـیز کې خپورکړ. د نوې خپروني راټـولـونکی او ځیرونکی ډاکتر رفیقي دی او د چاپ لګښت یې پـه کـویټـه/پښتونخوا کې د افغانستان کونسل الحاج غلام محّمد بهادر ورکړی دی. دلته یو ځل بیا وینو چې ډاکتر رفیقي د ټول افغانستان د تاریخ په ځیرنه پسې اړم شـوی دی او پـه (+۳۴۷ ۳۰ ) غټـو مخـونو کې یې د سراج الا خبار لـومـړی ټوک بـیـا خپـور کـړی دی. زه هریو منلي ژرک او ډاکتر رفیقي ته د زړه له کومي کورودانی وایم

و دې شي چې د کندهار پوهنتون په ۲۰۱۴ زییز کې د رتلې « ډیورنډ لیکې» په اړه دوهمه ځیرن غونډه جوړه کړي او د ټول افغـا نسـتـان ملـي مشران او علمي شخصیتونـه ورتـه راوبلي. زما په اند، کندهار پوهنتون د تیرې ځیرن غونډې د بریالۍ تجربې له لارې دا مقام ګټلی دی چې په راتلونکو کالونو کې هم مسلکي او علمي کنفرانسونه جوړکړي اوله دې لارې د ټـول افـغـانسـتـان د مشرانو او پـوهانو ترمنځ د پخې راشې درشې ورشو برابره کړي.

*****

ډاکتر رحمت ربی « زیرکیار »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org